# د آقا ﷺ د رمضان سره محبت

16-March-2023



هفته وار د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 16 مارچ 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د آقا ﷺ د رمضان سره محبت

- په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د بخښنې اسباب
- د مصر په یو ښار کښې د رمضان د هرکلي ځانګړے انداز
- آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به تراویح ادا کولې
- په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې شوګیره کوئ!

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

## دُرُودِ پاك نه لوستونكے بدبخته دے

د الله پاك آخري نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ❁چا چې رمضان المُبارك اوموندله او د هغې روژې ئې اونه نيولې هغه كس شقي (يعني بدبخته) دے ❁چا چې خپل مور او پلار [دواړه] يا يو اوموندلو او د هغه سره ئې ښه سلوك اونكړو هغه هم شقي (يعني بدبخته) دے ❁او د چا خوا ته چې زما ذِكر اوشو او هغه په ما باندې دُرُود اونه لوستلو هغه هم شقي (يعني بدبخته) دے.[1]

كعبه كے بدرُ الدُّجیٰ تم په كروڑوں درود    طيبه كے شمسُ الضُّحیٰ تم په كروڑوں درود
تم سے جہاں كا نظام، تم په كروڑوں سلام    تم په كروڑوں ثنا، تم په كروڑوں درود[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب    صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په حديثِ پاك كښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نِيَّت انسان جنَّت ته بوځي.[3]

---

[1] ... معجمِ اَوْسط، جلد:3، صفحه:62، حديث:3871۔
[2] ... حدائق بخشش، صفحه:266-271۔
[3] ... مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نِيَّتونو کولو سره د عمل ثواب زياتيږي. راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❁ د الله پاك د رضا د پاره به بيان اورم ❁ بااَدبه به کښينم ❁ ښه په توجُّه سره به بيان اورم ❁ څه چې واورم، د هغې د ياد ساتلو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته به د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

اے عاشقانِ رَسُول! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہ! يو ځل بيا د غُفران مياشت، د قرآن نازليدلو مياشت، د الله پاك ميلمنه رمَضانُ المُبارَك مياشت راتلونکې ده. يو څو ورځې پس به اعلان اوشي : مبارک شئ د رمضان المُبارک مياشت په نظر راغله. دې اعلان اوريدو سره به د ❁ عاشقانِ رمضان زړونه خوشحاله شي ❁ مخونه به ئې اوپړقيږي ❁ په جماتونو کښې به ښکلا راشي ❁ د تراويح سلسله ❁ فرض لمُونځونه ❁ خوك به ډير نفلونه ادا کوي ❁ خوك به د قرآن د تلاوت سعادت مومي ❁ د پيشمني او روژه ماتي خوشحالئ به وي ❁ هره ورځ به (د مازيګر او تراويح نه پس) د 2 مدني مذاکرو په ذريعه فيضانِ رمضان او علمِ دِين ښه عام کيږي ❁ او اِنۡ شَآءَ اللّٰہُ الۡکَرِیۡم! د ژوند خوندونه به سوا کيږي.

خُدا کی ہے عنایت ماہِ رمضان آنے والا ہے

ہوئی مولیٰ کی رحمت، ماہِ رمضان آنے والا ہے

خُوشی سے جھومتا ہے دِل، مچی ہے قلب میں ہلچل

مِلی عاشق کو فرحت، ماہِ رمضان آنے والا ہے [1]

---

[1] ... وسائلِ فردَوس ، صفحہ:24 ملتقطاً۔

## رَمضَان د قرآن نازلیدو میاشت ده

اے عاشِقانِ رسول! د رمضانُ المُبارك هم څه ښکلے ښائسته شان دے...!! دا هٰغه مبارکه میاشت ده چې په دې کښې د انسانیت د هدایت د پاره آخري آسماني کتاب قرآنِ کریم نازل شو، الله پاك فرمائي:

شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِیْۤ اُنْزِلَ فِیْهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ بَیِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَ الْفُرْقَانِ ۚ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْیَصُمْهُ ؕ

(پ2 البقره :185)

مَفهُوم ترجمهٔ کَنْزُالْعرفان : د رَمَضان میاشت هغه ده چې په دې کښې قرآن نازِل شو کوم چې د خلقو د پاره هِدایت او رَهنُمائی ده او د فیصلې په روښانه خبرو (باندې مشتمل دے)، نو په تاسو کښې چې څوك دا میاشت اوومي نو ضرور دې د دې روژې اونیسي.

خوږ.واو محترمو اسلامي ورونړو! مونږه د 2 سیپارې، د سورۀ بقره آیت نمبر 185 د څه حصَّې اوریدلو سعادت حاصل کړو، په دې آیتِ کریمه کښې د رَمَضَانُ المُبارَك یو خاص تعارف پیش کړے شوے دے چې د فرض روژو د پاره یوه میاشت خاص کړے شوې ده او هغه مبارکه میاشت رَمَضَانُ المُبارَك ده.

## جنَّت ته د ورومبي تللو سبب

خوږ.واو محترمو اسلامي ورونړو! د رمضان میاشت موندل، د رَمَضَانُ المُبارَك بابرکته، مُقَدَّسو او د نُور نه ډکو ساعتونو ته رسیدل ډیره د نیك بختئ خبره ده. صحابئ رسول حضرت طلحه بِن عُبَیدُ الله رَضِیَ اللہُ عَنْهُ فرمائي: یو ځل دوه کسان د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې حاضر شول، دواړو کلمه اولوستله او د صحابیت درجې ته اورسیدل، (دواړه نیکان، پرهیزګاران وو، البته) په دوئي کښې یو [صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْهُ] په عبادت او

رياضت كښې ډېر زيات محنت كولو، كوم چې ډېر زيات عبادت ګزار وو، يو ځل په يوه غزوه كښې شريك شو او شهيد شو. بيا يو كال پس دويم صحابـي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هم وفات شو.

حضرت طلحه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د دې دواړو د دُنيا نه د تللو نه پس يوه شپه ما په خوب كښې اوليدل، څه ګورم چې زه د جنَّت په دروازه كښې ولاړ يم، دا دواړه صحابيان رَضِیَ اللهُ عَنْهُما هم هلته موجود وو، په دې كښې د جنَّت نه يو كس بهر ته راغلو او هغه صحابـي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ كوم چې يو كال پس وفات شوے وو، هغه ئې د ځان سره جنَّت ته بوتلو، څه ساعت پس هغه بيا راغلے او هغه صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ كوم چې يو كال مخكښې شهيد شوے وو، په دې ځل ئې هغه د ځان سره جنَّت ته بوتللو-

چې سحر شو نو حضرت طلحه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خپل خوب صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته واورولو، ټول حيران وو، كله چې دا خبره سركارِ عالي وقار، مكي مدني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته را اورسيدله نو خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے صحابؤ! تاسو په كومه خبره حيران ئې؟ عرض ئې اوكړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! يو صحابي ډېر زيات عبادت كوونكے وو، بيا هغوئي ته د شهادت مرتبه نصيب شوه، د دې باوُجود هغه وروسته جنَّت ته داخل شو او دويم صحابـي كوم چې يو كال پس وفات شو، هغه وړومبے جنَّت ته داخل شو، د دې څه وجه ده؟ خوږ نبـي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: آيا دا دويم صحابـي يو كال زيات ژوندے نه وو؟ عرض ئې اوكړو: آؤ، ژوندے پاتې شوے وو. خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: آيا ده د شهيد كيدونكي په مقابَله كښې يو كال د رمَضان روژې نه وې نيولې؟ صحابهٔ كرامو عرض اوكړو: آؤ، [روژې ئې] نيولې وې. خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيا پوښتنه اوكړه: آيا دې وروسته وفات شوي صحابـي دومره زياتې سجدے نه دي كړي؟ عرض ئې اوكړو: آؤ، [سجدې ئې] كړې

دي. په دې باندې خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بس په دې وجه د دې دواړو په مينځ كښې د زمكې او اسمان فرق دے.[1]

| | |
|---|---|
| مرحبا صد مرحبا! پھر آمدِ رَمضان ہے | کِھل اُٹھے مُرجھائے دل تازہ ہوا ایمان ہے |
| یا خدا! ہم عاصِیوں پر یہ بڑا اِحسان ہے | زندگی میں پھر عطا ہم کو کیا رَمضان ہے |
| یا الٰہی! تُو مدینے میں کبھی رَمضاں دکھا | مدّتوں سے دل میں یہ عطارؔ کے ارمان ہے[2] |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونو! تاسو اوليدل! يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ كوم ته چې يو كال رَمَضَانُ الْمُبارَك د بل صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په مقابله كښې زيات نصيب شو، د دې يو كال پورې سجدې د بل صحابي په مقابله كښې زياتې نصيب شوې نو هغه ته د هغې فائده اورسيدله او دا د دويم صحابي په مقابله كښې مخكښې جنَّت ته د تللو حق دار شو.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ہر صحابیِٔ نبی! | جنّتی! جنّتی! | سب صَحابیات بھی! | جنّتی! جنّتی! |
| والِدَینِ نبی! | جنّتی! جنّتی! | ہر زوجۂ نبی! | جنّتی! جنّتی! |

## كاش! مونږه رَمَضَانُ الْمُبارَك ته اُورسو

اے عاشِقانِ رسول! زمونږ د قسمت ستورے هم ځليدونكے دے، څه ورځې پس به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د رَمَضَانُ الْمُبارَك مياشت بنكاره شي، كه الله پاك اوغواړي نو مونږه به هم د دې كال د رَمَضَانُ الْمُبارَك د مُقَدَّسو ساعتونو د ليدلو، د رَمَضَانُ الْمُبارَك په

[1]... ابنِ ماجه، كتاب تعبير الرؤيا، باب تعبير الرؤيا، صفحه:631، حديث:3925۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:705- 706 ملتقطًا۔

بابرکته ساعتونو کښې د ساه اخستلو سعادت حاصل کړو. الله پاك دې مونږ ته د دې توفيق را نصيب کړي، د مرګ هيڅ څه باور نشته، معلومه نه ده چې را روانه ساه به هم واخلو او که نه، څومره به داسې وو کوم چې په تير شوي رَمَضَانُ المُبارَك کښې زمونږ سره وو خو هغوئي په دې کال نشته، الله دې اوکړي چې زمونږه دومره مهلت نصيب شي او مونږه په خير او عافيت سره خوږې او معززې مياشت رَمَضَانُ المُبارَك ته په رسيدلو کښې کامياب شو.

میں رمضانُ المبارک پاؤں، روزے سارے رکھ پاؤں
تُو رکھ زندہ سلامت، ماہِ رمضان آنے والا ہے
اِلٰہی عافیت دینا، سلامت دِل عطا کرنا
عطا کر دے تُو صِحَّت، ماہِ رمضان آنے والا ہے[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## آه! که د بخښنې نه محرومه شو نو...!!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** يقيناً رَمَضَانُ المُبارَك نصيب کيدل ډير لوئي سعادت دے خو د دې نه زياته د سعادت خبره دا ده چې انسان رَمَضَانُ المُبارَك اوموي او ❀ د دې ښه عِزَّت اوکړي ❀ روژې اونيسي او ❀ ډير تلاوت اوکړي او ❀ زيات نيك اعمال اوکړي او ❀ په توبه او استِغفار کولو کښې کامياب شي. آه! هغه نادانه کوم چې د دې د بخښنې، رحمت او د جَهَنَّم نه د آزادئ په دې مياشت کښې هم په خپل ځان بخښلو کښې کامياب نه شي، هغه ډير محرومه دے. حضرت اَنس بن مالک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي

[1]... وسائلِ فردَوس ، صفحہ:25 بتقديم و تاخير۔

چې ما رسولِ كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې خبرو كولو اوريدلے دے: دا رمضان تاسو ته راغلې ده، په دې كښې د جنَّت دروازې بيرته كړے كيږي او د دوزخ دروازې بندولے كيږي او شيطانان بنديوان كيږي. محرومه دے هٰغه كس چا چې رمضان اوموندله او د هغه بخښنه اونشي چې كله د هغه په رمضان كښې بخښنه اونشوه نو بيا به كله [بخښلے] كيږي. [1]

مہِ رَمضاں، مَہِ غُفراں، مَہِ سُبحاں، مہِ رَحماں
کُھلیں گے بابِ جنّت، ماہِ رمضان آنے والا ہے [2]

كاش! چې په دې كال چې كله د رَمَضَان په مبارك ساعتونو كښې، په ورځ او شپه كښې، د پيشمنې او روژه ماتې په وخت د بخښنې پيغامونه تقسيميږي، كاش! چې د الله پاك د بے شميره رحمتونو يو ښاخكے په مونږ ګنهګارانو هم اوشي او مونږه په بخښنه حاصلولو كښې كامياب شو.

نزع کے وقت مجھے جلوۂ محبوب دِکھا!
تیرا کیا جائے گا میں شاد مروں گا یارَبّ!
عفو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا!
گر کرم کر دے تو جنّت میں رہوں گا یا رَبّ!

علمائے كرام فرمائي: په رَمَضَانُ الْمُبارَك كښې د بخښنې اسباب جمع كيږي ✿ د رَمَضَانُ الْمُبارَك روژه نيول د بخښنې سبب دے ✿ په رَمَضَانُ الْمُبارَك كښې قيام (يعنې د شپې عبادت) كول هم د بخښنې ذريعه ده ✿ د رَمَضَانُ الْمُبارَك په ليلةُ القدر كښې

---

[1]... معجمِ اَوْسَط ، جلد:5 ، صفحہ:366 ، حديث:7627۔

[2]... وسائلِ فردَوس ، صفحہ:24۔

عبادت كول هم د بخښنې ذريعه ده ❁ هم داسې روژه نيوونكي ته روژه ماتے وركول ❁ په غُلام (يا نوكر) باندې آساني كول هم د بخښنې ذريعه ده ❁ په رَمَضَانُ المُبارَك كښې دې د الله پاك ذِكر زيات اوكړے شي چې په حديثِ پاك كښې دي: رَمَضَانُ المُبارَك كښې د الله پاك ذِكر كوونكے بخښلے شوے دے.[1] ❁ دغه شان په رَمَضَانُ المُبارَك كښې د زياتې بخښنې غوښتلو سره هم د بخښنې خيرات ميلاويږي. چې كله خبره داسې ده چې په دې مُقَدَّسه مياشت كښې د بخښنې ټول سامانونه جمع دي، د دې باوُجود هم كه يو كس د بخښنې نه محرومه پاتې شي، خپل ځان اونه بخښي نو يقيناً هغه ډير محرومه دے.[2]

## په رَمَضَانُ المُبارَك كښې د بخښنې اسباب

الله پاك دې مونږه د دې محرومئ نه محفوظه اوساتي. مونږه په رَمَضَانُ المُبارَك كښې خپل ځان څنګه بخښلے شو؟ د دې د پاره **(1)** د ټولو نه ورومبے كار دا كول دي چې د رَمَضَانُ المُبارَك راتللو نه مخكښې مخكښې مونږه رښتيني پخه توبه اوكړو چې د ګناهونو نه بالكل پاك او صفا شو او د رَمَضَانُ المُبارَك هر كلے اوكړے شو **(2)** په رَمَضَانُ المُبارَك كښې د ورځې روژه نيول او د شپې قيام (مثلاً پوره 20 ركعته تراويح، تَهَجُّد او نور نوافل وغيره) هيڅ كله مه پريږدئ **(3)** د نَفسِ اَمَّاره د خواهشونو منع كولو ښه كوشش اوكړئ **(4)** په رَمَضَانُ المُبارَك كښې څه نا څه وخت داسې ضرور اوباسئ چې په هغې كښې څه كار نه وي، زړه د دُنيا د خيالونو نه بالكل صفا وي او مونږه په ښه تَوَجُّه سره صرف او صرف ذِكر او دُرود اوكړو **(5)** د غريبانو، فقيرانو او مسكينانو خيال اوساتئ، كه الله پاك درله فراخي دركړې وي نو د زړه د خَلاصه په غريبانانو خرچ كړئ **(6)** د تقوىٰ خپلولو

---

[1]... معجمِ اَوسَط، جلد:4 ، صفحه:338 ، حديث:6170۔

[2]... لطائف المعارِف ، صفحه:287 ملتقطًا۔

يعني د روژې د باطنــي آدابو خيال ساتلو او د ګناهونو نه د بچ کيدو پوره پوره کوشش اوکړئ (7) د رَمَضَانُ المُبارَك هر قِسمه بے ادبئ نه ځان بچ کړئ (8) پينځه واړه لمُونځونه د جَمعې سره ادا کړئ (9) ښه تلاوت اوکړئ (10) نعتونه اولولئ (11) په نيك كارونو كښې تادي كوئ (12) او د ټولو نه اهمَّه خبره مونږ له په خپل ذِهن كښې دا ايښودل پكار دي چې دا زما د ژوند آخري رمضان دے. چې دا يو څو طريقې خپلې كړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د رَمَضَانُ المُبارَك ښه بركتونه به نصيب شي او كه الله پاك اوغواړي نو د بخښنې خيرات به هم حاصل شي.

| | |
|---|---|
| ياخُدا ماهِ رمضاں کے صدقے | سچّی توبہ کی توفیق دیدے |
| نیک بن جاؤں جی چاہتا ہے | یاخُدا تجھ سے میری دعا ہے! |

## د خوږ آقا ﷺ رَمَضَان

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! زمونږ خوږ آقا او مولٰـی، مكي او مدَني مصطفٰـى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د رَمَضَانُ المُبارَك سره ډير زيات محبت كولو. د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژوند مبارك كښې رَمَضَانُ المُبارَك ته يو خاص اهميت حاصل وو. زمونږ خوږ نبــي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به رَمَضَانُ المُبارَك څنګه تيرولو؟ راځئ! په دې حقله د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږې خوږې طريقې اورو، كه مونږه د خپل خوږ نبــي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا طريقې خپلې كړې نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! په رَمَضَانُ المُبارَك كښې به ډير بركتونه حاصل كړو او د بخښنې خيرات موندلو كښې به هم كامياب شو.

## (١) رَمَضَانُ المُبارَك ته به ئې هر كلے فرمائيلو

✿ زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه خوږه طريقه دا ده چې هغوئې صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

به رَمَضَانُ المُبارَك ته په ښه طريقه هركلے فرمائيلو[1] ❁ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارك دا وو چې د رَجَبُ المُرَجَّب نه د رَمَضَانُ المُبارَك پورې د رارسيدو دُعاګانې به ئې شروع کولې ❁ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د رَمَضَانُ المُبارَك ګاونډئ مياشت يعنې د شعبان د مياشتې ډير قدر کولو او په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم کښې به ئې ډيرې روژې نيولې ❁د رَمَضَانُ المُبارَك راتلو نه مخکښې به ئې د هرکلي خطبه فرمائيله، په هغې کښې به ئې د رَمَضَانُ المُبارَك فضائل او برکتونه بيان فرمائيل[2] ❁ بيا چې به کله د رَمَضَانُ المُبارَك مياشت ښکاره شوه نو د مياشت ليدلو خاص دُعا به ئې لوستله[3] ❁ او د رَمَضَانُ المُبارَك په راتلو به ئې زيرے ورکولو.[4]

| | |
|---|---|
| ماہِ رمضاں جہاں میں پھر آیا | مغفرت کا پیام ہے لایا |
| رحمتِ حق کا ہو گیا سایہ | لحظہ لحظہ نزولِ رحمت ہے[5] |

اے عاشِقانِ رسول! مونږ له هم پکار دي چې مونږه د الله پاك د دې ميلمه يعنې رَمَضَانُ المُبارَك ښه په جوش سره هرکلے اوکړو ❁ د رَمَضَانُ المُبارَك په راتلو باندې خوشحالي اوکړو ❁ د رَمَضَانُ المُبارَك راتلو نه مخکښې د دې پوره تيارے اوکړو ❁ دې مبارك ميلمه ته په ښکلي انداز سره هرکلے اووائيو او بيا چې څنګه د رَمَضَانُ المُبارَك مياشت ښکاره شي، بس په عبادت او رياضت کښې ښه مشغول شو. په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې په مدني چينل باندې شپه او ورځ تر ډيرو ګهنټو پورې نيغ په نيغه

---

[1]... لطائف المعارف ، صفحہ:204 ماخوذاً۔

[2]... موسوعۃ الامام ابنِ ابی الدنیا، فضائل شہر رمضان ، ج:1 ، صفحہ:371 ، حدیث:41 ماخوذاً۔

[3]... کتاب الدعاء للطبرانی، باب القول عند دخول رمضان ،جز:5 ، صفحہ:311 ، حدیث:912 ماخوذاً۔

[4]... مصنف ابنِ ابی شیبہ، کتاب الصیام ، باب ما ذکر فی فضل رمضان ...الخ، ج:2 ، صفحہ:419 ، حدیث:1 ماخوذاً۔

[5]... وسائلِ فردَوس، صفحہ:29۔

خصوصي نشريات كيږي په كومو كښې چې د مازيګر او د تراويح نه پس 2 مدني مذاكرې هم كيږي ❀ په دې كښې شركت اوكړئ ❀ فيضانِ رمضان كتاب اولولئ ❀ د دې درس وركړئ ❀ كه كيدے شي نو د ټول رَمَضَانُ الْمُبَارَک اعتكاف اوكړئ ❀ ګنې نو كم از كم د آخري عشرې د اعتكاف كولو سعادت حاصل كړئ او جُماتونه آباد كړئ او پينځه واړه لمونځونه په جُمات كښې ادا كړئ۔

اے عاشقانِ رَسُول! په خپلو كورونو كښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د نورو بركتونو موندلو د پاره د خپل كور زنانوؤ له هم دا ذهن جوړ كړئ چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د مياشت د نظر راتلو نه مخكښې بلكه د هميشه د پاره مسجدِ بيت (په كور كښې د عبادت د پاره ځائے) خاص كړئ او په دې كښې عبادت شروع كړئ، د خپل محارم سره ذِكر او درود او د نفلونو اهتمام د نن نه اوكړئ اسلامي خوئيندې دې د آخري عشرې اعتكاف هم په دغه مسجدِ بيت كښې اوكړي۔ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک ډير بركتونه به بياموندے شي۔

## د مصر په يو ښار كښې د رَمَضَان د هر كلي كولو يو ځانګړے انداز

د رَمَضَانُ الْمُبارَك ښه هركلے كول د مسلمانانو معمول دے، مشهور سِيِيلګيرے اِبْنِ بَطُّوطَه ليكي: د 727 هجرئ خبره ده، زه د مصر په يو ښار كښې ووم، د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم 29 تاريخ وو، د هغه ځائے د قاضي صاحب قاضي عِزُّ الدِّين په كور كښې ښه اهتمام كيدلو، د ماښام په وخت د ښار لوئي لوئي عالِمَان او مالداره خلق د قاضي په كور كښې جمع كيدل شروع شول، په دروازه باندې يو شاهي نوكر ولاړ وو كوم چې به په ډير ښكلي انداز كښې راتلونكو ميلمنو ته تود هركلے وئيلو، علمائے كرامو به تشريف راوړلو او

په خپلو ځيونو به کښيناستل، کله چې ټول راغلل نو قاضي صاحب تشريف راوړو، بيا دا ټول خلق په خپلو خپلو سورلو باندې سواره شول، د ښار نور خلق به په هغوئي پسې شاته شاته روان وو، د قاضي صاحب په مشرئ کښې دا قافِله په شان او شوکت سره روانه شوه، په تللو تللو دا قافِله د ښار نه بهر يو اوچت ځائے ته اورسيدله، په دې ځائے کښې قالينونه خواره شوي وو، ټول د خپلو سورلو نه کوز شول، د ماښام وخت نِزدې وو، ټولو د رَمَضَان د مياشت کتلو کوشش شروع کړو، د مياشت ليدلو نه پس د ماښام لمُونځ ئې هلته ادا کړو، د لمَانځه نه پس دا قافِله د ښار طرف ته روانه شوه، اوس د خلقو په لاسونو کښې شمعې، مشعلونه او فانوسونه وو، په دې ښکلي انداز سره ټول خلق د قاضي صاحب د کور پورې راغلل، بيا خپلو خپلو کورونو ته لاړل. د هغوئي تر سنګ هر کال د رَمَضَانُ المُبارك د هرکلي دا انداز وو او دې ته به هغه خلقو **يَوْمُ الرُّکْبَه** (يعني د سورلئ ورځ) وئيله.[1]

## د رَمَضَانُ المُبارَك د هرکلي مختلف انداز

اے د رمضان عاشِقانو! د رَمَضَانُ المُبارَك په مياشت راتلو باندې په مختلف انداز سره **هرکلے کول، د خوشحالئ اظهار کول** څه نوې خبره نه ده، اَلْحَمْدُ لله! په مسلمانانو کښې د ډيرو کلونو نه دا رواج دے ❁ په **مغربي ملکونو** کښې به خلقو د **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** په آخرئ عشره کښې د رمضان د هرکلي تياري شروع کوله ❁ د دې د پاره به خلقو په خپلو کورونو کښې صفائي کولې ❁ په کورونو کښې به ئې رنګ چونا کوله ❁ کوم خيزونه چې نوي اخستل وو، اخستل به ئې ❁ د رَمَضَانُ المُبارَك په راتلو باندې به ئې يو بل له مبارکي ورکوله❁ او چې کله به د رَمَضَانُ المُبارَك مياشت ښکاره شوه نو په

---

[1] ... رحلة ابنِ بطوطہ ، جز:1 ، صفحہ:49۔

خوشحالئ كښې به ئې قصيدې وئيلې❀ د رَمَضَانُ الْمُبارَك د هرکلي په تعلق سره د **يمن د خلقو** هم يو ځانګړے انداز تير شوے دے. كله به چې د رَمَضَانُ الْمُبارَك مياشت راتله نو د يمن خلقو به د عربئ دا اشعار لوستل او هغې ته به ئې هرکلے وئيلو:

مَرْحَبَا يَا شَهْرَ رَمْضَان مَرْحَبَا شَهْرَ السَّعَادَه
مرحبا! اے ماہِ رمضان، مرحبا! اے ماہِ سعادت

مَرْحَبَا يَا عَالِيَ الشَّانِ فِي الْمَعَالِي وَ الزِّيَادَه
مرحبا! اے بلند شان والے مہینے، مرحبا!

كُلُّ مُسْلِمٍ فِيْكَ نِشْطَانٌ بِالتَّوَجُّهِ لِلْعِبَادَه
مسلمان تجھ میں عبادت کے لئے چاک و چوبند ہیں

وَعَنِ الْمَعَاصِي كَسْلَانٍ وَلَهُ الطَّاعَاتِ عَادَه
گُناہوں میں کمی آئی اور اطاعت کی عادت ہو گئی

كُلُّ مَسْجِدٍ فِيْكَ قَدْ زَانَ رَبُّهٗ بِالنُّوْرِ زَادَه
اللہ پاک نے ہر مسجد کی نورانیت بڑھا دی

فِي تَرَاوِيْحِ وَقُرْآنٍ، قَدْ جَفَى نَوْمُ الْقَعَادَه
تراوِیح اور قرآن کی برکت سے نیند دُور ہو گئی

اَنْ يُعَامِلْنَا بِاِحْسَانٍ، وَيُجْزِنَا مِنْ بِعَادَه

اے د روژې مياشتې! زمونږ سره ښه سلوک اوکړه او د خپل عادَت مطابق د ښې جزا ذريعه جوړه شه-

❀ په **اُردَن** كښې به د رَمَضَانُ الْمُبارَك راتلو سره د ورځې هوټلې وغيره بندولے كيدلې، د پيشمنې په وخت به د خلقو رابيدارولو اهتمام كيدلو❀ په **مُريتانيا** كښې به د رَمَضَانُ الْمُبارَك د مياشتې كتلو اهتمام كيدلو❀ څنګه به چې مياشت په نظر راغله، هر طرف ته به خوشحالي خوشحالي وه او خلقو به د خوشحالئ نه د مرحبا شعرونه وئيل ❀ په **صومال** كښې به د رَمَضَانُ الْمُبارَك په راتلو سره جماتونه ښكلي كيدل❀ په جماتونو كښې به رڼا ګانې لګيدلې ❀ او په جماتونو كښې به نوې قالينونه خوروله كيدل❀ د تركي خلقو به رَمَضَانُ الْمُبارَك ته **مَلَكُ الشُّهُور** (يعني د مياشتو بادشاه) وئيلو❀ د رَمَضَانُ الْمُبارَك د هرکلي د پاره به كوڅې او محلې ښائسته كولے كيدلې❀ د رَمَضَانُ الْمُبارَك

مياشت ليدلو سره به خلقو د اَللّٰهُ اَكبَر نعرې وهلې ❀ او د پيشمنې او روژه ماتې كلينډرې به هم تقسيميدلې ❀ د اِنډونيشيا مسلمانان به د رَمَضَانُ المُبارَك د تعظيم د پاره ښې ابله ښپې كيدل او مياشت به ئې كتله ❀ د رَمَضَانُ المُبارَك په راتلو سره به په جماتونو كښې د صفائې اهتمام كيدلو ❀ جماتونه او د جمات طرف ته تلونكې لارې به ښائسته كولے كيدلې.

الله پاك دې مونږ له هم په ښه اهتمام سره د رَمَضَانُ المُبارَك د هركلي كولو توفيق راكړي ❀ كه ډير نه وي نو كم نه كم د خپل كور صفائي اوكړئ ❀ د رَمَضَانُ المُبارَك د هركلي د پاره په كورونو كښې خوشبوياني اوكړئ ❀ د جماتونو د صفائي دې خاص اهتمام وي ❀ كه كيدے شي نو د رَمَضَانُ المُبارَك د عبادت د پاره نوې جامې اوګنډئ ❀ په كور كښې موجود جائے نمازونه هم ښه اوينځئ ❀ د ذِكر و اذكار د پاره نوې تسبيح واخلئ. داسې د رَمَضَانُ المُبارَك ښه اهتمام سره هركلے اوكړئ، چې د رَمَضَان په محبت كښې د ښه ښه نِيَّتونو سره دا ټول هر څه اوكړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! بركتونه به نصيب شي.

## (2) آقا كريم به د رَمَضَانُ المُبارَك د پاره فكرمند كيدلو

زمونږ خوږ آقا مكي مدني مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د رَمَضَانُ المُبارَك د پاره ډير فكرمند كيدلو. د مسلمانانو خوږه محترمه مور حضرت عائشه صديقه رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهَا فرمائي: د رَمَضَانُ المُبارَك راتلو سره به د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارك رنګ بدليدلو.[1]

[1]... شُعَبُ الْايمان، جلد:3 ، صفحه:310 ، حديث:3625۔

علّامه عبدُ الرؤف مناوي رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د دې په شرح کښې ليکي:د دې رنګ مبارك بدليدلو سبب ويره وه، يعني خوږ آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ويريدلو چې چرته په رَمَضَانُ المُبارَك کښې د بندګئ حق ادا کولو کښې څه کمے پاتې نه شي.[1]

اللّٰه! اللّٰه! **خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** غور اوکړئ! بندګي څه ده او د بندګئ حقونه څه دي؟ دا ټولې خبرې دُنيا ته خوږ آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زده کړې دي، هغوئي هدايت ورکوونکي دي، راهنما دے، د هغوئي اداګانې د ربّ دِين دے، د هغوئي فرمان د ربّ فرمان دے، هغوئي صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اللّٰه پاك محبوب دے، رَمَضان د هغوئي په برکت نصيب شوې ده، د دې باوُجود د خوږ آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم انداز څومره ځانګړے دے. چې رَمَضَانُ المُبارَك به راتللو نو د خوږ آقا صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره به فِکر وو چې چرته د رَمَضَانُ المُبارَك په حقِّ بندګئ کښې کمے پاتې نه شي.

آه! يو مونږه يو، اوس زمونږ په زړونو کښې د رَمَضَانُ المُبارَك احترام کميږي، څومره داسې غافله دي کوم چې بغير د شرعي مجبورئ نه د رَمَضَانُ المُبارَك روژې اَوّل خو نه نيسي، دا کبيره ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے، بيا دومره په ګناه داړه وي چې د ❀ روژه دارو په مخ کښې خوراك ښکاره کوي ❀ سګرټ ښکې ❀ پان جووي ❀ تر دې چې بعضې دومره بے شرمه وي چې د ټولو خلقو په مخکښې اوبه ښکي، خوراك کوي او شرم نه کوي. افسوس! په رَمَضَانُ المُبارَك کښې هم زمونږه ورځې په مال ګټلو کښې تيريږي، شپې په ګناهونو کښې غرقيږي، د حقِّ بندګئ فکر راتلل خو لا لرې خبره ده، په رَمَضَانُ المُبارَك کښې هم زړه د عبادت طرف ته هډو

[1] ... فيض القدير ، جلد:5 ، صفحه:168 ، تحت الحديث:6681۔

مائل کيږي نه، آؤ د رَمَضَانُ المُبارَك شپې تیرولو د پاره د لوبو تماشو اهتمام کيږي، کاش! چې زمونږه په صحيح معنو کښې د رَمَضَانُ المُبارَك قدر نصيب شي.

## د رَمَضَانُ المُبارَك د بےحرمتئ انجام

علّامه ابنِ جَوزی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ لیکي: د الله پاك آخري رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: زما خوا ته جبريل اَمين عَلَيۡهِ السَّلَام حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د قيامت په ورځ به يو ځلمے راوستے شي، هغه به غمژن وي، ژاړي به، فرښتو به هغه د اور او اوسپنې په لارو روان کړے وي، هغه ځوان به د زر کاله پورې د **الامان! الامان!** چغې وهي خو هغه ته به امان نه ورکړے کيږي، بيا به دا ځلمے زر کاله پس د ربِّ قَهّار په بارګاه کښې پيش کړے شي، الله پاك به فرښتو ته حکم اوکړي دا پړمخ دوزخ ته اوغورځوئ! د جبريل اَمين عَلَيۡهِ السَّلَام دې بيان اوريدلو سره خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے جبريله (عَلَيۡهِ السَّلَام)! دا به څوك وي؟ عرض ئې اوکړو: يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا به ستا يو اُمَّتـي وي. اوئې فرمائيل: د ده ګناه به څه وي؟ عرض ئې اوکړو: **دا هغه بدنصيبه دے، چې د ده په ژوند کښې رَمَضَانُ المُبارَك راغله خو ده د توبې او اِستِغفَار په ځائے رَمَضَانُ المُبارَك په ګناهونو کښې تيره کړه.**[1]

**د الله پناه! د الله پناه! اے د رمضان عاشِقانو!** غور خو اوکړئ! په رَمَضَانُ المُبارَك کښې ګناه کول او د دې مُقَدَّسې مياشتې بےحرمتي کول څومره نقصان رسوونکې ده...!! د رَمَضَانُ المُبارَك بےحرمتي کوونکي دې د دې نه عبرت واخلي، لږ سوچ خو اوکړئ....!! مونږه به ترڅو پورې په دې دُنيا کښې ژوندي يو؟

ایک دن مرنا ہے آخر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے آخر موت ہے

---

[1]... بستان الواعظين ، صفحہ:188 ۔

يوه ورځ به مَلَكُ المَوت حضرت عزرائيل عَلَيْهِ السَّلام تشريف راوړي، زمونږه مال دولت، خپل خپلوان، زمونږه اولاد، خواږه دوستان هر څه به هم په کار رانشي، ټول به ګوته په خُله پاتې شي، آه! زمونږ د بدن نه به رُوح ويستلے شي، بيا به غَسَّال [يعني مړي ته غسلورکوونکے] رااوبللے شي، کفن به راته واغوستے شي، هئ! افسوس! بيا به جنازه اوکړے شي او مونږ به تيارۀ قبر ته کوز کړي ❀ الله دې نکړي! الله دې نکړي! که مونږه د رَمَضَانُ المُبارَك شپې په ګناهونو کښې تيرې کړې وي او ❀ په فضول کارونو کښې مشغول شوي يو او د رَمَضَانُ المُبارَك بےحرمتي مو کړې وي ❀ که چرې ربّ خفه شو❀ د دې په سبب په قبر کښې مونږه اونيولے شو❀ د قيامت په ورځ راګير کړے شو نو لږ سوچ اوکړئ! زمونږه به څه کيږي؟ ❀ خدائے دې نکړي که د الله پاك رحمت نصيب نه شو ❀ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت نه محرومه شو نو څه به کيږي؟

| | |
|---|---|
| تُو بس رہنا سدا راضی، نہیں ہے تاب ناراضی | تُو ناخوش جس سے ہو برباد ہے تیری قسم مولیٰ! |
| عطا کر عافیت تو نَزع و قَبر و حَشر میں یاربّ! | وسیلہ فاطِمہ زَہرا کا کر لطف و کرم مولیٰ! |
| میں رحمت، مغفِرت، دوزخ سے آزادی کا سائل ہوں | مہِ رمضان کے صدقے میں فرمادے کرم مولیٰ! |
| بَراءَت دے عذابِ قبر سے نارِ جہنّم سے | مہِ شعبان کے صدقے میں کر فضل و کرم مولیٰ! [1] |

اے عاشِقانِ رسول! اوس موقع ده، رَمَضَانُ المُبارَك تشريف راوړي، که په ژوند کښې درنه چرته د رَمَضَانُ المُبارَك بے قدري شوې وي، بے ادبي شوې وي نو نن توبه کړئ او پوخ نِيَّت اوکړئ چې ❀ په دې کال به د رَمَضَانُ المُبارَك ښه قدر کوو ❀ د رَمَضَانُ المُبارَك د بے ادبئ نه به بچ کيږو ❀ ټولې روژې به نيسو ❀ پينځه واړه لَمونځونه به

[1] ... وسائل بخشش، صفحہ:98 ملتقطًا۔

د جمعي سره ادا كوؤ ❀ شبه ډير تلاوت به كوؤ ❀ په رَمَضَانُ المُبارَك كښې به د ګناهونو نه د بچ كيدو پوره كوشش كوؤ ❀ غيبت به نه كوؤ ❀ چغلي به نه كوؤ ❀ نورو ته به تكليف نه رسوؤ ❀ بس ټول رَمَضَانُ المُبَارَک به په نيكو كښې ❀ عبادت او رياضت كښې ❀ د عاجزئ او توبې او اِستِغفار كولو سره تيروو. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم!

تراویح اور نمازوں میں، کمی ہو گی نہ روزوں میں
کرو مل کر یہ نیّت، ماہِ رمضان آنے والا ہے
نبی کے عشق میں روؤں، مدینے کے لئے تڑپوں
خُدا دے سوز و رِقَّت، ماہِ رمضان آنے والا ہے
رہوں قائِم میں توبہ پر، خُدایا فضل ایسا کر
گُناہوں سے دے نفرت، ماہِ رمضان آنے والا ہے[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3) عبادت ته به ئې ملا اوتړله

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: كله به چې رَمَضَانُ المُبارَك راتلله نو خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به عبادت ته ملا تړله.[2]

اِمام نَوَوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: عبادت ته د ملا تړلو معنیٰ دا ده چې رسولِ اكرَم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په عام حالت كښې څومره عبادت كولو، په رَمَضَانُ المُبارَك كښې به ئې د هغې نه ډير زيات عبادت كولو.[3]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! څه ښكلے شان دے زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم....!! كاش! چې مونږه هم د خپل خوږ آقا، محمَّد مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1] ... وسائلِ فردوس، صفحه:24-25 ملتقطًا۔
[2] ... شُعَبُ الْايمان، جلد:3، صفحه:310، حديث:3624۔
[3] ... فيض القدير، جلد:5، صفحه:168، تحت الحديث:6680۔

دا ښکلې ادا ګانې خپلې کړو، څنګه چې رَمَضَانُ المُبارَك تشريف راوړي، بس عبادت ته ملا اوتړو، ټول رَمَضَانُ المُبَارَک کښې ښه په مينه محبت سره عبادت اوکړو.

په عبادت کښې، رياضت کښې، تلاوت کښې مې اولګوې زړه
د رمَضان په برکت کرم اوکړې مولٰــى!

## رَمَضَان د نيکو موسم دے

اے عاشِقانِ رسول! رَمَضَانُ المُبارَك د نيکو مياشت ده خو افسوس! زمونږ خلق په رمضان کښې خپل د دنيا مصروفيات زياتوي. رَمَضَانُ المُبارَك د کاروباري خلقو د پاره د ګټې مياشت ده، په رَمَضَانُ المُبارَك کښې په بازارونو کښې ګڼه جوړيږي، د پيزارونو او جامو په دکانونو ښه ګڼه وي، داسې د دُکاندارانو مشغوله هم زياتيږي، معاذَ الله! بعضې نادانه د دې مشغولا په وجه فرض روژې هم پريږدي او لمُونځونه هم قضا کوي.

آه! افسوس! مونږه خلق د اختر د يوې ورځې د پاره پوره رمَضان تياري کوو خو د رَمَضَانُ المُبارَك پوره مياشت څنګه تيرول دي، د دې تياري يوه ورځ هم نه کوؤ. رَمَضَانُ المُبارَك واقعي موسم دے خو د مال ګټلو نه بلکه د نيکو ګټلو موسم دے، ښه په شوق او محبت سره د عبادت موسم دے. اوګورئ! زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د رَمَضَانُ المُبارَك په مياشت کښې ډير زيات عبادت کولو يعنې د عام معمولاتو نه به ئې زيات عبادت کولو.

اندازه اولګوئ! د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو يو ساعت به په عام حالت کښې هم په نيکو کښې تيريدلو نو په رَمَضَانُ المُبارَك کښې به ئې عبادت څومره ډير کولو. بل طرف ته زمونږه حال څه دے...؟ د عامو ورځو عبادت هم بس داسې دے....!! خوش

نصيبه دے هغه خوك كوم چې پينځه وخته لمُونځ د جَمعې سره په ادا كولو كښې كامياب شي، ګڼې يو شمير خلق داسې دي چې د جَمعې د لمُونځ نه هم محرومه اوسي.

بهرحال! مونږ به په رَمَضَانُ المُبارَك كښې عبادت ډير زيات كوؤ، مخكښې به مو پينځه لمُونځونه ادا كول ❀ اوس به تراويح هم ادا كوؤ ❀ تَهَجُّد به هم شروع كوؤ ❀ د اشراق او څاښت نفلونه به هم ادا كوؤ ❀ د اَوَّابين نفلونه به هم ادا كوؤ ❀ د شپې اوده كيدلو نه مخكښې به د صَلٰوةُالتَّوْبَه نفلونه ادا كوؤ او بيا به اوده كيږو ❀ دغه شان به مو مخكښې 313 ځله دُرود شريف لوستلو، په رمَضان شريف كښې به 1000(زر پيرې) لولو ❀ مخكښې به مو هره ورځ يوه سيپاره تلاوت كولو، په رَمَضَانُ المُبارَك كښې به دوه سيپارې تلاوت كوؤ، داسې په نورو ورځو كښې چې زمونږ د عبادت كوم عام معمول دے، په رَمَضَانُ المُبارَك كښې په هغې كښې زياتوالے پكار دے. اللّٰه پاك دې توفيق راعطا كړي.

## په رَمَضَانُ المُبارَك كښې 2 اهم عبادتونه

**اُمُّ الْمُؤْمِنِيْن**، حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: كله به چې د رَمَضَانُ المُبارَك [مياشت] راغله نو خوږ نبـي، رسولِ هاشمي به لمُونځونه ډير كول او ډيرې په عاجزۍ سره به ئې دُعاګانې كولې.

د رَمَضَانُ المُبارَك ډير عبادتونه دي، دا دوه [عبادتونه] هم ډير اهم دي: **(1)** ډير نفلونه ادا كول **(2)** ډيرې دُعاګانې كول.

## په رَمَضَانُ المُبارَك كښې شوګيره اوكړئ!

د چا په ذِمه چې قضا لمُونځونه وي، هغه له پكار دي چې د نفلونو په ځائے قضا

لمُونځونه را اوکړځوي، ګنې ډېر نفلونه دې ادا کړي، که کیدے شي نو ټوله شپه نفلونه ادا کړئ، ګنې نیمه شپه، که دا هم نه شي کیدے نو د شپې دریمه حِصَّه، که دا هم نه شي کیدے نو د شپې شپږمه حِصّه، که دا هم نه شي کیدے نو ڪم نه ڪم د ماښام، ماسخُوتن او سحر لمُونځ د جَمعې سره ادا کړئ، تراویح هم پوره ادا کړئ، د ماښام نه پس اَوَّابین هم ادا کړئ، بیا پیشمني ته هسې هم پاڅیدل وي نو د تَهَجُّد لمُونځ هم ادا کړئ، دغه شان به مونږه اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د شپې د ډیرې حِصَّې په عبادت کښې په تیرولو کښې کامیاب شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خوږ آقا ﷺ به تراویح ادا کولې

صحابیٔ رسول حضرت عبدُ الله بِن عبَّاس رَضِیَ اللہُ عَنْہُما فرمائي: خوږ آقا مکي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په رَمَضَانُ المُبارَك کښې د وتر نه علاوه 20 رکعته لمُونځ ادا کولو.[1]

**مشهور مُفسّرِ قرآن، حکیمُ الاُمَّت** حضرت مفتی احمد یار خان نعیمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د دې حدیث شریف نه معلومه شوه چې بخپله خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 20 رکعته تراویح ادا کولې. مفتی صاحب نور لیکي: خیال لرئ چې حُضُور نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تراویح لمُونځ د جَمعې سره په پابندئ سره ادا نکړو، صرف 2 ورځې ئې ادا کړو او وروسته ئې اوفرمائیل چې که په دې پابندي اوکړے شوه نو د فرض کیدو اندیښنه ده، چې د هغې په وجه به زما اُمَّت په مشقت کښې راشي. په دې وجه تاسو په خپلو کورونو کښې لمُونځ ادا کوئ! وروسته د (مسلمانانو دویم خلیفه) حضرت عمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د

---

[1]... معجمِ اَوسَط، جلد:1 ، صفحه:233 ، حدیث:798۔

تراويح د لُمونځ اهتمام اوفرمائيلو او 20 ركعته تراويح ئې باقاعده د جَمعې سره د ادا كولو انتِظام اوفرمائيلو.[1]

## تراويح سُنَّتِ مُؤَكَّده دي

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** تراويح د رَمَضَانُ المُبارَك خاص عبادت دے، نفلونه ټول كال ادا كيدے شي، نفلـي اعتِكاف هم كيدے شي خو تراويح صرف په رَمَضَانُ المُبارَك كښې ادا كيږي، په دې وجه په تراويح كښې بالكل هم سُستي نه ده پكار. ياد لرئ! په رَمَضَانُ المُبارَك كښې تراويح ادا كول سُنَّتِ مُؤَكَّده دي.[2] سيدي اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په فتاوىٰ رضويه شريف كښې فرمائي: د سُنَّتِ مُؤَكَّده د پريښودو عادت جوړول ګناه ده.[3] د تراويح د نورو مسئلو او فضيلتونو نه د ځان خبرولو د پاره د مكتبة المدينه د كتاب فيضانِ رمضان باب فيضانِ تراويح اولولئ اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د معلوماتو خزانه به په لاس درشي.

## (4) د قرآنِ كريم دور به ئې فرمائيلو

**اے عاشِقانِ رسول!** د خوږ آقا مكي مدَني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَمَضَانُ المُبَارَك د معمولاتو نه يو دا هم دے چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په رَمَضَانُ المُبَارَك كښې ډير زيات تلاوت كولو بلكه صحابىٔ رسول حضرت عبدُالله بِن عبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: هر كال به حضرت جبريلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام حاضريدلو او خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه سره د قرآنِ كريم دور فرمائيلو.[4]

---

[1]... جاء الحق ، صفحه:355 -356 ملتقطًاو تقديم و تاخير۔

[2]... رد المحتار ، كتاب الصلاة ، باب الوتر و النوافل ، مبحث صلاة التراويح ، جلد:2 ، صفحه:596۔

[3]... رد المحتار ،كتاب الصلاة ، باب الوتر و النوافل ، مبحث صلاة التراويح ، جلد:2 ، صفحه:596۔

[4]... بخارى ، كتاب بدء الوحى، صفحه:67 ، حديث:6۔

معلومه شوه چې په رَمَضَانُ المُبارَك کښې د قرآنِ کريم دور کول هم سُنَّتِ مصطفٰـی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دي. د دور مطلب دے: **يو ئې لولي او بل ئې اوري، بيا دويم ئې لولي او وړومبے ئې اوري.** حافِظان خو عام طور دور کوي، خاص طور په تراويح کښې چې کومه سيپاره لوستل وي، د هغې دور کوي، د دې سره حِفظ پخيږي. که چرې حفظ کړے مو نه وي نو څه اوشو؟ مونږه د اوس نه د حفظ کولو کوشش شروع کوؤ، که پوره قرآنِ کريم نه وي نو کم نه کم، **سورۀ ياسين، سورۀ رحمان، سورۀ ملک، سورۀ واقعه او سورۀ مزّمل** ياد کړئ-

که چرې دا هم ياد دي نو چې مونږه نوره اضافه اوکړو او واړه واړه سورتونه ياد کړو- د دې سورتونو حفظ کولو سره که چرې د دې فضيلتونه په ذهن کښې وي نو شوق به زياتيږي لکه څنګه چې ❁ سورۀ ياسين شريف ته د قرآنِ کريم زړه ❁ سورۀ رحمان ته د قرآنِ کريم ښکلا اووئيلے شوه او ❁ د سورۀ ملک تلاوت د قبر د عذاب نه نجات ورکوي ❁ د سورۀ واقعه تلاوت په رزق کښې د زياتوالي سبب جوړيږي-

بهر حال! مونږ له پکار دي چې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ادا، ادا کړو، په کور کښې دوه وروڼه يو ځائے، يا خور وررور دې په يو ځائے دور اوکړي، مور ځوئ بلکه ښځه خاوند هم په يو ځائے دور کولے شي، که حِفظ ئې نه وي کړے نو څه خبره نه ده، دواړه دې خپلې مخے ته قرآنِ کريم بيرته کړي، يو دې په ليدلو لولي، بل دې په ليدلو اوري، بيا دې دويم په ليدلو لولي، وړومبے کس دې په ليدلو اوري. دغه شان به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د قرآنِ کريم د لوستلو هم ثواب حاصل شي او د دې سره سره به د اوريدلو ثواب هم نصيب شي. ياد لرئ! چې قرآن لوستلے کيږي نو اوريدل ئې فرض دي او په رَمَضَانُ المُبارَك کښې د فرض ثواب 70 چَنده زياتيږي. که مونږه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ادا،

ادا کولو سره د قرآنِ کریم دور اوکړو نو د ادا فرض به هم ادا شي او د الله پاك په کرم سره به 70 چَنده زيات د ثواب حقدار اوګرځو.

هر گھڑی رحمت بھری ہے ہر طرف ہیں برکتیں ماہِ رَمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے
آگیا رَمضاں عبادت پر کمر اب باندھ لو فیض لے لو جلد یہ دن تیس کا مہمان ہے

## (5) آقا ﷺ به سخاوت کولو

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** زمونږ د خوږ آقا مکي مدَني مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رَمَضَانُ المُبَارَك د معمولاتو نه يو دا هم دے چې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په رَمَضَانُ المُبَارَك کښې ډير زيات سخاوت کولو، په رواياتو کښې تر دې پورې راغلي دي چې خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د تيزې هوا نه هم زيات سخاوت کولو.[1] د هغوئي نه به چې چا اوغوښتل، عطا کول به ئې.[2]

سُبْحٰنَ الله! زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو د سخيانو سخي دے، رَمَضَان وي او که رَمَضَان نه وي، د دې در نه د سخاوت درياب هميشه جاري وي. البته د سخي آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سخاوت درياب به نور هم ډير زيات په جوش کښې وو. مونږ له هم په رَمَضَانُ المُبَارَك کښې خپل سخاوت زياتول پکار دي، ځکښې مو چې څومره د الله پاك په لاره کښې خرچ کول، په رَمَضَانُ المُبَارَك کښې د هغې نه زيات ورکړئ، زمونږ په مُعاشره کښې د غريبانانو کمے نشته، څومره يتيمانان، مسکينان او غريبانان به داسې وي چې د هغوئي پيشمنې او روژه ماتې به په اوبو سره کيږي. کيدے شي چې د کجورو اخستلو وَس به هم نه لري، بيا د رَمَضَانُ المُبَارَك نه پس اختر هم راځي، بے

[1]... بخاری ، کتاب بدء الوحی، صفحه:67 ، حديث:6۔
[2]... الطبقات الکبریٰ ، جلد:2 ، صفحه:150۔

وسه غریبانان په ښه طریقې سره روژې اونیسي، د پیشمنې او روژه ماتې په وخت د هغوئي په دسترخوان باندې ښه خوراکونه موجود شي، د هغوئي هم د اللّٰه پاك د پیدا کړے شوؤ نعمتونو خوړلو موقع نصیب شي، بیا ئې ورُوکے اختر هم ښکلے تیر شي، په دې وجه په رَمَضَانُ المُبارَك کښې ښه د زړه په صِدق سره صدقه او خیرات کول پکار دي.

کوم خلق چې مالداران دي د هغوئي تر سنګ خو د روژه ماتې دعوتونه هسې هم کیږي، کله د یو دوست خوا ته روژه ماتے کوي، نو کله د خپل یو خپلوان په کور کښې روژه ماتوي، د روژه ماتې په نوم سره په هوټلو کښې ګڼه وي، پاتې شو بے وسه غریبانان...!! د دوئي څوك تپوس اوکړي او څوك ئې روژه ماتې ته را اوبلي...!!

## یو روژه ماتے د غریبانو سره

که چرې خپلوان مو نه وي، بیا هم یو غریب ته په روژه ماتې ورکولو کښې څه باك دے بلکه د غریبانو روژه ماتې کښې د ثواب اُمِّید زیات دے. د صحابیٔ رسول حضرت عبدُ اللّٰه بِن عُمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عادت مبارك وو چې هغوئي به روژه ماتے د مسکینانو سره کولو.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! مونږه هم نِیَّت اوکړو که زیات نه وي نو کم نه کم یو روژه ماتے خو د یو غریب سره اوکړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د هغه زړه به خوشحاله شي، د هغه د زړه نه به دُعاګانې اوځي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! کامیابي به مو نصیب شي.

چې وي زما کار د غریبانو مرسته کول    د دردمندو او کمزورو سره محبت کول

---

[1]...لطائف المعارف ،صفحہ:233۔

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! چې مونږه د خپلو غريبانانو خپلوانو سره ښه سلوک اوکړو د دوئي حاجت پوره کول هم ښه سلوک دے ❁ خپل زکوٰة ❁ فطرانه د اوس نه غريبانانو له ورکړئ ❁ دوئي له راشن ورکړئ ❁ د خوراک سامان ورکړئ ❁ کور کور ته لاړ شئ او دوئي له غَله مثلاً وريژې، غنم، دالونه او نعدې روپئ ورکړئ ❁ د دوئي د روژه ماتي اهتمام اوکړئ- د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اَ كَلَ طَعَامَكُمُ الْاَبْرَارُ يعنې ستا خوراک دې نيکان خلق اوخوري، [1] د دين عِلم حاصلوونکي، د دِين عام کوونکي د دې حقدار دي چې هغوئي له خپل زکوٰة ، فطرانه، نفلي صدقې ورکړے شي ځکه چې دا نيکان خلق دي د دوئي د پاره د خوراک انتظام اوکړے شي د دوئي روژه ماتے اوکړے شي-

## د مدني عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دعوتِ اسلامي په ټوله دُنيا کښې د نيکئ دعوت عام کوؤنکے ديني تحريک دے. د الله پاک په فضل سره ❁ دعوتِ اسلامي د 80 نه زياتو شعبو کښې ديني خدمتونه ترسره کوي ❁ دعوتِ اسلامي تر اوسه پورې په زرګونو جُماتونه، په سوونو فيضانِ مدينه (مدني مرکزونه) جوړ کړي دي ❁ هلکانو او جينکو (Boys & Girls) ماشومانو ته د قرآنِ پاک بيل بيل تعليم ورکولو د پاره تر اوسه پورې تقريباً 10489 (10 زره 489) مدرسة المَدينه جوړ کړے شوي دي، په کومو کښې چې تقريباً 3،41،821 (3 لاکهه 41 زره 821) هلکانو او جينکو ماشومانو ته د قرآنِ کريم د حفظ او ناظرې مفت تعليم ورکړے کيږي. ❁ د عِلم دين خوررولو (يعني د عالِم او عالمې

[1] ... ابوداؤدکتاب الاطعمه، باب ماجاء فی الدعا، صفحه:607، حديث3854۔

کورس) کولو د پاره بيلې بيلې جامعة المَدينه جوړې کړے شوې دي. تر اوسه پورې تقريباً 1310 جامعة المَدينه (د هلکانو او جينکو د پاره) جوړې کړے شوې دي، په کومو کښې چې تقريباً 1,04,857(1 لاکھ 4 زره 857) جينکو او هلکانو طالب علمانو ته درسِ نظامي (د عالِم او عالِمې کورس، فيضانِ شريعت کورس) مفت ورکړے کيږي. تراوسه پورې تقريباً 24,257 (24 زره 257) عالِم او عالِمَه کورس، فيضانِ شريعت کورس مکمل کړے دے. په پاکستان 14 دارُ الافتاء اهلِسُنَّت جوړ کړے شوي دي، چرته چې مفتيانِ کرام د اُمَّت په شرعي لار ښودنه کښې مصروف دي، ❁ په المَدينةُ العِلمِيَّه **(Islamic Research Center)** کښې د قرآن وحديث او د هغې تفسير و تشريح، نور علمِ فقه، علمِ سيرت، علمِ تَصَوُّف سره په نورو مختلفو موضوعاتو باندې ديني کتابونه ليکلې دي، په نوو نوو مسئلو او موضوعاتو باندې هم تحقيق کيږي، په دې شعبه کښې په دې وخت **142 مدني عُلمائے کرام** تقريباً 807 ديني کتابونو او رسالو باندې کار کړے دے او د علم فيضان ئې عام کړے دے او دا سلسله لا روانه ده ❁ د **مدني چينل** په ذريعه په 6 سيټلائټس باندې په اُردو، انګلش او بنګالئ ژبو کښې د دين ښه خدمت کيږي.

**تاسو هم د دين د خِدمت په دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده هر يو جائز، ديني، اصلاحي، فلاحي، روحاني، د خير ښيګړې او د نيکئ په کارونو کښې خرچ کيدے شي.** الله پاک دې مونږ له د دين د خدمت توفيق راکړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ، یااللہ مری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيك اعمال

خوږ.واو محترمو اسلامي وروڼو! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: **د روژې مياشت، د نيک اعمال مياشت ده-** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د روژې مياشت، د نيک اعمال مياشت راتلونکې ده، د هر کال په شان به دا کال هم د روژې مياشت د نيک اعمال د مياشت په طور تيروو- ټول ذمه واران دې ملا کلکه اوتړي چې په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره حِصَّه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دُنيا بے شميره خيرونه به در نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: **نيک اَعمَال** هم دے. دا وړه شان رساله د مکتبة المَدينه نه هديةً واخلئ او که غواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ (www.dawateislami.net) نه ئې ډاؤن لوډ کړئ بلکه که نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې ***Naik Amal*** ايپلي کيشن انسټال کړئ، په دې کښې په مختلفو نيکو اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي، د هر سوال نه لاندې 30 خانے دي، هره ورځ د خپلې خوښې يو وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه اخلئ، او د هغې مطابق ژوند تيروئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې په برکت به د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذِهن جوړيږي، د زړه پاکي به نصيب کيږي او کردار به مو صفا ستهرا، ځلنده، ښکلے شي. راځئ د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## ټوله کورنئ په نيغه لار شوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمُونځونه قضا کول وغيره زما په معمولاتو کښې شامل وو، يو ځل زمونږه علاقې ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې يو اسلامي

ورور ماته د ماښام د لمونځ کولو او بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د ماښام د لمَانځه نه پس بيان ما له ډيره مزه راکړه، د بيان په آخره کښې مبلغ د **نيک اعمال** رسالې تعارُف اوکړو، په رساله **نيک اعمال** کښې د درج د نيکو نه ډک ژوند تيرولو مدني ګل ليدلو سره ماته ډيره خوشحالي ميلاؤ شوه، د دې رسالې په شکل کښې د شيخِ طريقت، امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره د محنت ليدلو سره ما لاس په لاس د بيعت کولو د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولئ کامل سره نسبت څه جوړ شو چې د ګناهونو نه بيزاره شوم او د نيکو طرف ته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول مې د زړه نه خپل کړو، د دې په برکت هم ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! په مزه مزه ټوله کورنئ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامې او سندرې باجې بندې شوې او د ګناهونو نه د ډک چينل په ځائے مدني چينل اولګيدلو.[1]

خوب مَدنی قافِلوں کی دھوم ہو
نیک ہو اُمّت اے نانائے حسین

"مَدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل
نیک ہو اُمّت اے نانائے حسین[2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې **مدني انعامات** ته اوس **نيک اَعمَال** وئيلے شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1] ... دلوں کا چین، صفحہ:4۔

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحہ:258۔

# تجهيز و تکفين ايپلي کيشن

اے عاشقانِ رسول! نن د ټيکنالوجي دور دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د عاشِقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي د اسمارټ فون(Smartphone) په ذريعه هم د علمِ دِين عام کولو کوشش کوي. په دې بابله د دعوتِ اسلامي آئی. ټـي ډيپارټمنټ له طرفه مختلف موبائل ايپلي کيشنز جاري شوي دي، په هغې کښې يو موبائل ايپلي کيشن **Muslim's Funeral** دے. په دې موبائل ايپلي کيشن کښې د مړي د غُسل، کفن او دفن وغيره مُتَعَلِّق اهم معلومات ورکړے شوي دي او يوه خاص خبره دا چې مړي له غُسل څنګه ورکول دي؟ کفن ورته څنګه اغوستل دي؟ د دې عملي طريقے د پاره **Animated Videos** هم شامله ده. تاسو دا موبائل ايپلي کيشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشَاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سينہ تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا! جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

[1]... مشکوٰة، کتابُ:الْاِيمان، بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحه:55، حديث:175۔

## د مِسواك كولو سُنَّتونه او آداب

**دوه فرامِينِ مُصطفٰی** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: **(1)** دوه ركعته د مسواک كولو سره ادا كول د مِسواك نه بغير د 70 ركعتونو نه افضل دي.[1] **(2)** د مِسواک اِستعمال د ځان د پاره لازِم كړئ ځكه چې په دې كښې د خُلې صفائي (ده او دا د) الله پاك د رِضا سبب دے.[2]

**اے عاشِقانِ رسول!** ❀حُضُورِ اكرَم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هره شپه ډير ځله مسواك كولو، هر ځل د اُوده كيدلو په وخت كښې هم او د بيداريدلو په وخت كښې هم ❀بغير د ښه نِيَّت نه د مسواك كولو سره به طبعي فائدې حاصلې شي خو ثواب به نه ميلاويږي، مثلاً د اوداسه د پاره مسواك كول وي نو داسې درې نِيَّتونه اوكړئ: د رضائے اِلٰهي حاصلولو، د سُنَّت ادا كولو او د ذِكر او دُرُود د پاره د خُلې پاكولو په غرض مسواك كووم.❀مشائِخِ كِرام فرمائي: څوك چې د **مِسواک** عادت لري د مرګ په وخت كښې به هغه ته كلِمه وئيل نصيب كيږي ❀د حضرت سَيِّدنا عبدُالله بِن عبّاس رَضِیَ اللّٰہ عَنْھُمَا نه رِوايت دے: په **مِسواك** كښې لس صفتونه دي: خُله پاكوي، اوربئ مضبوطوي، نظر تيزوي، بلغم لرې كوي، د خُلې بدبوئ لرې كوي، د سُنّت موافِق دے، فرښتې پرې خوشحاليږي، رَب پرې رضا كيږي، مسواك نيكئ زياتوي او معده صحيح كوي ❀مِسواك

---

[1] ... اَلتَّرغِيْب وَالتَّرہِيب، كتاب: الطہارۃ، الترغيب فی السواک، صفحہ:86، حديث:18۔
[2] ... مسند امام احمد، جلد:2، صفحہ:438، حديث:5869۔

په ښي لاس کښې داسې نيسئ چې کچئ ګوته ترينه لاندې، د مينځ درې ګوتې پرې د پاسه وي او غټه ګوته ئې په سر [د برش سره] وي ❀ مخکښې د ښي طرف په پاسنو غاښونو کښې، بيا د ګڅ طرف پاسنو غاښونو کښې، بيا د ښي طرف په لاندِينو غاښونو کښې او بيا د ګڅ طرف لاندِينو غاښونو کښې مِسواك کوئ ❀مِسواك کولو وخت کښې په موټې کښې نيولو سره د بواسيرو کيدو خطره ده ❀مِسواك په اوداسه کښې شامل نه دے، دا د اودس سُنّتِ قَبلِيه دے البَتَّه سُنَّتِ مُؤَکَّده هغه وخت دے چې په خُله کښې بدبوئ وي❀ مِسواك چې کله د استعمال قابِل پاتې نه شي نو غورځوئ ئې مه، ځکه چې دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، چرته ئې په اِحتياط سره کيږدئ يا ئې ښخ کړئ، يا څه کاڼے وغيره وزن ورپورې اوترِئ او په سمندر کښې ئې ډوب کړئ.

ياد ساتئ! د روژې په حالت کښې هم مسواک کول سُنَّت عمل دے، البته که چرې د مسواک چقولو سره ريشې پريږدي يا مزه محسوس شي نو داسې مسواک کول نه دي پکار- (1)

د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د مکتبةُ المَدينه بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو کتاب 550 سنتيں اور آداب

---

[1] ... فتاویٰ رضويه، جلد:10، صفحه:511۔

واخلئ او اولولئ ئې! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم ده.

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے
ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو
رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں
بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعنې د جُمُعے او زیارت مینځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شریف په پابندۍ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د کښیناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسۃ والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شول چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

---

1... القول البديع، الباب الثانى، ص۲۷۷

2... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

3... القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

1… الترغيب والترہيب، کتاب الذكر و الدعاء، ۳۲۹/۲، حديث:۳۰
2… مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة…الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵
3… تاريخ ابنِ عساكر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵